# طرحه شوی پلان
# 2027

DETROIT
PUBLIC SCHOOLS
COMMUNITY DISTRICT

## ليدلوری

### هغه راتلونکی چې موږ يې غوښتنه کوو

ټول زده کونکي به په هغه پوهه، مهارتونه او باور سمبال وي چې زموږ په ښار، زموږ
په هیواد او زموږ په نړۍ کې د پرمختګ لپاره ورته اړین وي.

## ماموريت

### هغه کارونه چې موږ يې ترسره کوو

موږ هر زده کونکي ته، په هره ټولنه کې، هره ورځ ښوونه او روزنه او ځواک
ورکوو، ترڅو له ډیټرویت څخه یو په علم پیاوړی سمبال ځای جوړ کړو.

| تر هرڅه لومړی زده کونکي | غوروالی | ریښتینولي | برابري | خدمت | مقاومت |
|---|---|---|---|---|---|



د بدلون اړوند کلتور



د پام وړ لاسته راوړنه



پر ماشوم متمرکزي ژمني



فوق العاده
ورتیا



د مسؤول نظارت

# د فارغینو مشخصات

DETROIT PUBLIC SCHOOLS COMMUNITY DISTRICT



## کالج او دندې ته چمتووالی

له ښوونځي څخه فارغینو د بېلابېلو علومو اړوند په اساسي مضامینو کې مهارت ترلاسه کړی دی، په ډله ییزه توګه له یو بل سره همکاري لري، په ننګوونکي او د چمتووالي لپاره په مناسب نصاب کې بوخت دي. له دوی څخه د ستونزو حلوونکي جوړ شوي دي، د لوړو زده کړو او اړوندو روزنیزو برنامو یا د دوی د خوښې وړ دندو لپاره چمتو او د هغې وړتیا لري، دوی چمتو دي چې د اړیکو او ټولنیزو سرچینو څخه ګټه پورته کړي ځکه چې دوی د لوړو زده کړو انتخابونه تعقیبوي او خپله مالي سواد زده کړه او وسیلې لري ترڅو له مخې یې د بلوغ دورې ته د داخلېدو په لړ کې قوي پرېکړې وکړي.

## مشرتابه او همکاري

فارغین د با اخلاقه، اغېزمنې رهبرۍ په ارزښت پوهیږي او په بېلابېلو شرایطو کې یې په بریالیتوب سره مهارتونو ته وده ورکړې ده. دوی کولای شي یو کار ته نور وهڅوي، شخړې مدیریت کړي، نور پیاوړي کړي او خپلو ټولنو ته د ودې ورکولو لپاره ډله ییزې هڅې منظمې کړي. د باوري خبرو اترو ترسره کونکي او فکري ډلو د لوبغاړو په توګه، دوی د ګډو موخو د ترلاسه کولو لپاره د بېلابېلو لیدلورو، ځواکمنتیاوو او رولونو څخه استفاده کول زده کړي دي. که د رسمي مشرانو په توګه ګام پورته کول وي یا د کاري ډلې د غړو په توګه مرسته کول وي، دوی کولای شي خلک د مثبت بدلون لپاره وهڅوي.





## ټولنیز- عاطفي ځیراکت او لېوالتیا

فارغینو د تحلیلي فکر کولو هغه مهارتونه ترلاسه کړي دي چې له دوی سره د پېچلو ستونزو په تحلیل کولو او د هغوی لپاره د عملي حل په لارو چارو کې مرسته کوي. دوی کولای شي د نویو شرایطو سره په اسانۍ سمون پیدا کړي، د فکر کولو نوې لارې غوره کړي او د تخنیکي پرمختګونو د فعاله کارونې له مخې کار وکړي، او له مخې یې هغه څه ته ورسیږي چې ورته ناڅرګند وي. دا چې ذهني وده لري، یاد فارغین هغه بدلون ته د نوښت د یو فرصت په سترګه ګوري چې موخه یې په مثبت ډول د ټولنې او سیستمونو بدلول وي.

## نړیواله او ټولنیزه ښکېلتیا

فارغین د خپلو ټولنو دننه او له هغې ور هاخوا تاریخونو، کلتورونو او لیدلورو قدر او ستاینه کوي. دوی بېلابېلو شالید لرونکو خلکو او نړیوالو لیدلورو ته لېوالتیا، خواخوږي او درناوی څرګندوي. دوی په ټوله نړۍ کې د نژادي مساواتو، ټولنیز عدالت او بشري حقوقو لپاره باخبره مدافعین دي، چې دوی مجبوروي چې د لویانو په توګه د باخبره مدني ګډون له لارې د بې عدالتۍ پر وړاندې ودریږي.

## تحلیلي فکر او سمون

یاد فارغین پر خپلو وړتیاوو باور لري او د خپلې احساساتي او عاطفي هوساینې د نظارت او ښه کولو مهارتونه یې زده کړي دي. دوی پوهیږي چې څنګه اوږدمهاله موخې وټاکي او د خنډونو پر وړاندې په زړورتیا او هوډ سره مبارزه وکړي. دوی داسې پرېکړې کوي چې ټولنې ته د پاملرنې ترڅنګ ځانته د پاملرنې توازن هم ولري، او خپل عاطفي ځیراکت دوی د ورته والي او توپیرونو په اوږدو کې د ټولنیزو ستونزو او شخړو د موندلو لپاره چمتو کوي.

## تر 2027 پورې، لاندې موخو ته رسېدل:

**90 %** متوسطه ورځنۍ حاضري

**43%** اوږدمهاله غیر حاضري

**63%** په کورنۍ کې درناوی

# 1 موخه: د حاضرۍ ښه کول



## تاکتیکونه:

- **فزیکي او رواني روغتیایي پاملرنې ته لاسرسی:** د ځایی روغتیایي پاملرنې له چمتو کونکو سره د همکارۍ پیاوړې کول ترڅو د روغتیایي مرکزونو په ګډون، په ساحه کې د فزیکي او د رواني روغتیا خدمات وړاندې کړي
- **د کورنیو لپاره سرچېنې:** د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو او د حاضرۍ پر وړاندې د خنډونو د حل لپاره د کورنیو سره د سرچینو د مرکزونو او خدماتو د استعمال پراخول
- **اړیکي لرونکې ټولنه:** اړیکي جوړې کړئ لکه د اوربدنې اړوند غونډو، شوراګانو (د باور پر اساس، پخوانیو زده کونکو، ځو ژبنیو شوراګانو، د ښوونځي مشورتي شوراګانو)، د والدینو - ښوونکو اتحادیې، او د بورډ اړوند ټولنې په مراسمو کې د ټولنې د ګډون پراخولو ته دوام ورکړئ
- **تمې او پوهاوی:** د حاضرۍ پر وړاندې خنډونو د له منځه وړلو لپاره د حاضرۍ اړوند تمو او پوهاوي زیاتول



# 2یمه موخه: د مهارت لوړولو کچو ته په رسېدو کې هڅې

## تر 2027 پورې، لاندې موخو ته رسېدل:

- **30 %** له وړکتون څخه تر 2یم ټولګي د لوست او ریاضي مهارت
- **19%** د =G@ K@NO[ H مهارت
- **25 %** د K@NO[ H اړوند د ریاضي مهارت
- **35 %** SM>@N=O^K مهارت
- **27%** N=O^K د ریاضي مهارت
- **58 %** د ĕ ğ¾ ìMđ اړوند د لیک لوست وده
- **61%** د ĕ ğ¾ ìMđ اړوند د ریاضي وده
- **15%** د 5 او 8 مو ټولګیو د ساینس او ټولنیزو علومو مهارت
- **71%** د =Đ S وده

## تاکتیکونه

- **د مشرتابه پراختیا:** د فعالیت اړوند د مخ پر ودې کلتور رامینځته کول او د ښوونځي د هغو مدیرانو او مرستیالو مدیرانو سره د پوهې، مهارتونو او ذهنیتونو سمبالولو ته دوام ورکول چې هره ورځ د تدریس د پرمختګ چاري مخ ته وړي.
- **لومړنی تدریس:** له وړکتون څخه تر 3یم ټولګیو ښوونکو روزنیز او ظرفیتي مهارتونو ته وده ورکول ترڅو د لیک لوست او ریاضي بنسټیز مهارتونه زده کړي
- **د نژاد پرستۍ ضد تدریس:** د تدریس داسې مواد او میتودونه ځای پر ځای کول چې په هر ټولګي او مضمون کې د زده کونکو تنوع، هویت او تجربې تایید او منعکسې کړي.
- **د زده کونکو متنوع ملاتړ:** د څو ژبو او استثنایي زده کونکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره تدریسي لاربښوونې او روزنې ته وده ورکول
- **د کاري ډلې د مهارتونو د اړتیا لپاره د زده کړې پرمختګونه:** د ښوونکو او کاري ډلې لپاره د وړتیا داسې چوکاټ رامینځته کول چې د اړتیا وړ پوهه او مهارتونه یې روښانه کړي، او د دې مهارتونو د زده کړې او مهارت ښودلو لپاره انعطاف وړ اختیارونه لکه د لوست زدکړه، کلتوري ځواب ورکونکې او تصدیق کونکې زدکړه، د همه شموله ټولګي مدیریت اړوند تکلارې وړاندې کول.



DETROIT PUBLIC SCHOOLS COMMUNITY DISTRICT

## تر 2027 پورې، لاندې موخو ته رسېدل:

- **34%** مینه ناک، ننګونکی، چمتو
- **81%** له عالي لېسې څخه د فراغت کچه
- **70%** پهM ? ? کې ګډون
- **60 %** پهM ? ? کې بریالیتوب

# 3یمه موخه: فراغت راتلونکي ته چمتو زده کونکي



## تاکتیکونه

- **تولنیزه عاطفي زدکړه:** د صدماتو په نښه کولو او د درسي ساعتونو په اوږدو کې د ټولنیزو عاطفي مهارتونو د رامینځته کولو لپاره د مناسب نصاب غوره کول او پلي کول
- **د نوي ډیپلوم لارې او د عالي لېسې ورځ:** د نوښت د ډیپلوم د اختیارونو او مهالوېشونو پلان او پلي کول ترڅو زده کونکو ته اجازه ورکړل شي چې د کالج په کچه او د دندې لپاره د چمتووالي په هغو کورسونو کې برخه واخلي چې د دوی له موخو سره سمون لري
- **د کالج او دندې لپاره د چمتووالي په کورسونو کې د بریالیتوب کچې:** د کورس اړوند چوکاټونه، نصاب، مسلکي زده کړې، او په AP کې د شته معلوماتو کارول، دوه ګونی شمولیت، د دندې اړوند کورسونه او د کار پر اساس زده کړو ته وده ورکول
- **چمتو شوې ډاټا او معلومات:** د زده کونکي د مرکز د ودې په توګه د زده کونکو او کورنۍ د پورټال سیستم پیلول



DETROIT PUBLIC SCHOOLS COMMUNITY DISTRICT

# 4مه موخه: له پایداره او دوامداره پرمختګ څخه ډاډ ترلاسه کول



## تر 2027 پورې، لاندې موخو ته رسېدل:

- دوامداره متوازنه بودیجه
- د کاري ځلې اړوند بستونه
- **+12** د کاري ځلې د ښکېلتیا شاخص
- د مراجعه کونکو مناسب نظرونه او وړاندیزونه
- AH K په سمون کې

## تاکتیکونه

- **پر ځای تمویل:** د زده کونکو لپاره د منصفانه تمویل ډاډ ترلاسه کولو لپاره قوي هڅې پیلول د وړیا مرستې ډیر انعطاف او د فورمولونو په کارولو سره د اړتیا په صورت کې ډیر تمویل برابرول.
- **متوازنه بودیجه:** د ستراتیژیکي پانګونې او بودیجې د نه شتون له مخې د متوازنې بودیجې ساتل
- **په بشپړ ډول ښکېلې کاري ځلې او ټیمونه:** د وړتیا پر اساس ګمارنې، د مدیریت د پراختیا برنامې او کلتوري نوښتونه چې پکې د مساوات او همه شمولیت فعالیتونه هم شامل دي، چې بېلابېل استعدادونه جذب او وساتي
- **مسلکي کلتور:** په ښوونځیو او مرکزي دفتر کې د لا مثبتو، مسلکي اړیکو جوړولو لپاره معیارونه، روزنه او د هغو نظرونو او وړاندیزونو پلي کول چې له مخې یې فعالیتونه لابنه کیږي
- **د بریالیتوب لپاره روښانه مدیریت:** ډاډ ترلاسه کول چې د بریالیتوب پلانونه د ښوونځي د مدیره هیئت، حوزوي مدیر، کابینې او اجرایوي کاري ځلې، مشر مدیرانو او د ښوونځي مشرانو لپاره د لاسرسي وړ دي.
- **د 21 مې پېړۍ اسانتیاوې:** د تاسیساتو ماسټر پلان، عملیاتي ژمنې او د معیاري ټکنالوژیو وړاندې کول

DETROIT PUBLIC SCHOOLS COMMUNITY DISTRICT

# د درې کلن پرمختګ موخې

| | 23-2022 | 24-2023 | 25-2024 | 26-2025 | 27-2026 |
|---|---|---|---|---|---|
| اوږدمهاله غیر حاضري | 66.1% | 60.3% | 54.5% | 48.7% | 42.9% |
| متوسطه ورځنۍ حاضري | 81.8% | 83.9% | 85.9% | 88.0% | 90.0 % |
| له ورکتون تر 2 یم ټولګي د لوستلو مهارت | 19.4% | 22.1% | 24.7% | 27.4% | 30.0 % |
| له ورکتون تر 2 یم ټولګي د ریاضي مهارت | 17.7% | 20.8% | 23.9% | 26.9% | 30.0 % |
| مهارت M-STEP ELAد | 13.0% | 14.6% | 16.1% | 17.7% | 19.2% |
| اړوند د ریاضي مهارت M-STEPد | 9.1% | 13.1% | 17.1% | 21.1% | 25.1% |
| مهارت P/SAT 8 EBRWد | 24.0% | 26.8% | 29.5% | 32.3% | 35.0 % |
| د ریاضي مهارت P/SAT 8د | 8.6% | 13.2% | 17.8% | 22.3% | 26.9% |
| اړوند د لیک لوست وده iReadyد | 53.2% | 54.3% | 55.4% | 56.5% | 57.6% |
| اړوند د ریاضي وده iReadyد | 54.1% | 55.7% | 57.4% | 59.0 % | 60.6 % |
| د 5 او 8 مو ټولګیو د ساینس مهارت | 8.2% | 9.8% | 11.5% | 13.1% | 14.7% |
| د 5 او 8 مو ټولګیو د ټولنیزو علومو مهارت | 4.2% | 6.9% | 9.6% | 12.3% | 15.0% |
| له عالي لېسې څخه د فراغت کچه* | 71.1%* | 73.6% | 76.1% | 78.6% | 81.1% |
| په کورسونو کې ګډون CCRد | 49.6% | 54.7% | 59.8% | 64.9% | 70.0 % |
| په کورسونو کې بریالیتوب CCRد | 48.0 % | 51.0% | 54.0 % | 57.0% | 60.0 % |
| اړوند کالج ته چمتووالی SAT EBRWد | 32.9% | 35.5% | 38.0 % | 40.6 % | 43.1% |
| کالج ته د چمتووالي ریاضي SATد | 11.7% | 14.7% | 17.6% | 20.6% | 23.5% |
| د 11 م ټولګي د ساینس مهارت | 14.1% | 18.0% | 21.9% | 25.8% | 29.7% |
| د 11 م ټولګي د ټولنیزو علومو مهارت | 15.4% | 18.8% | 22.1% | 25.5% | 28.8% |
| وده WIDAد | 66.3% | 67.5% | 68.7% | 69.8% | 71.0% |
| مینه درلودل، ننګوول، چمتو کېدل | 27.6% | 29.1% | 30.6 % | 32.1% | 33.6% |
| د کاري ډلې د غړو ښکېلتیا | -1 | +2 | +6 | +9 | +12 |
| د کورنۍ ښکېلتیا | 62.1% | 63.0 % | 64.0 % | 64.9% | 65.8% |

* د راپور ورکولو یو کلن ځنډ؛ د فراغت کچه 71٪ د 4-کال 2022 لپاره ده